# د یوناما خبری کنفرانس


د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د وياند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: http://unama.unmissions.org


## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**ډاکتر نیلاب مبارز، د یوناما د وياند د دفتر څخه ،**

**علیم صدیق، د یوناما وياند**

*کابل- دوشنبه د اکتوبر د میاشتی ۲۶ نیټه، کال ۲۰۰۹*

## په ۲۰۰۹ کې له ۵۰۰۰۰ څخه زیاتو راستنیدونکو د سرپنا ه مرستې تر لاسه کړی دي

د ۲۰۰۹ کال په پای ته رسیدو سره د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری د سرپنا پروګرام په ۲۰۰۹ کې په هغو ولایتونو کې بشپړیږي چې زیات شمیر کډوال ورته راستنیږي او د هغو کسانو لپاره چې په داخلي بېځایه شویو کسانو کې تر ټولو دیر زیانمنیدونکی دي. د څمکو، کارونو او امنیت ترڅنګ د سرپنا مساله د بیرته راستنیدونکو کډوالو لپاره ډیره مهمه اړتیا ده. د دی حقیقت په درک کولو سره چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری د خپلي بودجي یوه زیاته اندازه د سرپنا مسالی ته ځانګړی کړی ده.

له ۲۰۰۲ راهیسي د ۲۰۰۹ کال تر سپتمبر پوري د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری نږدې ۱۹۰۰۰۰ زیانمنیدونکو بیرته راستنیدونکو کورنیو ته د سرپنا مرستي ورکړی دي چې په ټول هیواد کې په کلیوالو سیمو کې نږدې ۱٫۲ میلیونو راستنیدونکو ورڅخه ګټه پورته کړي ده. په دی شمیره کې د ۴٫۳ میلیونو راستیدونکو څخه نږدې ۲۵ ٪ استفاده کړي ده چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری له ۲۰۰۰ راهیسي برابری کړي دي. په ۲۰۰۹ کې له ۸۰۰۰ سرپنا وو څخه ډیری چې پلان شوي دي څه نا څه ۷۰۰۰ کورنی د ګټي لپاره انتخاب شوی دي او د جوړوني کار جریان لری.

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنری د بیا ابادولو پروګرام به د راتلونکو دوو کلونو لپاره ادامه پیدا کړي خصوصا د سرپنا په سکټور کې. دغه اداره به په هم دی ډول د حکومت له هغه پروګرام سره هم مرسته وکړي چې هغو بیرته راستنیدونکو کډوالو ته ځمکي ورکوي، چې ځمکي نلري.

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنری له ۲۰۰۰ څخه را پدی خوا له ۴٫۳ میلیونو افغانانو سره مرسته کړي ده چې په دي کې له ۳٫۴ میلیونو څخه زیات له پاکستان څخه او ۸۶۵۰۰ کسان له ایران څخه راستانه شوي دي.

د زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ له ښاغلی نادر فرهاد سره اړیکه ټینګه کړئ.

## بې سوادی به په بامیان په ۲۰۱۴ کې له منځه ولاړه شي

د بامیانو د ولایت حکومتي اداره د نړیوالو موسسو په ملاتړ د لیک لوست کمپاین پیل کړی دی څو بامیان د بې سوادی څخه په راتلونکو پنځو کلونو کې وژغوري.

دغه کمپاین د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په ۱۷ نیټه د یوې اونی په ترڅ کې د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر تر ۲۴ نېټې پوري چې ملګرو ملتونو له خوا په بامیانو کې د سواد د اونۍ په نامه اعلان شوی ده دا د ملګرو ملتونو د هغو هلو ځلو ملاتړ دی چې په بامیانو کې د سولې او پرمختیا په موخه ترسره کیږي.

د بامیانو څخه د معارف د ریاست شمیرنې څرګندوي چې نږدې ۱۱۰۰۰۰ زده کوونکي په ښوونځیو کې شامل شوی دي چې د دغه ځای د ټول نفوس ۲۰ سلنه جوړوي.

د مدني ټولنې ډلي او نا دولتي موسسي د دغه کمپاین سره یو ځای شوی دي او لا تر مخه یې دغه کار پیل کړی دی. په دغه لومړنی پړاو کې د بامیانو د پوهنتون محصلین او د لیسو زده کوونکي به د خپلو نالوستو کورنیو غړو ته د ژمي د رخصتیو په مهال لوست ورکړي.

ملګري ملتونه د معارف څخه ملاتړ کوی ځکه چې دا د لا زیات پاېښت لرونکي وسیلي په توګه د سولې او پرمختیا د نوښتونو لپاره کارول کیږی.

## د روغتیا نړیوال سازمان په ختیځ زون کې د تیتانوس په ضد کمپاین پیلوي

د ملګرو ملتونو د روغتیا نړیوال سازمان د ختیځ زون په ۱۹ ولسوالیو کې د تیتانوس ضد کمپاین د شنبې په ورځ د اکتوبر ۲۴/ ۲۰۰۹ نیټه پیل کړ چې د ملګرو ملتونو ورځ ولمانځي.

د پنځه ورځنی کمپاین هدف دا دی چې ۲۰۰۰۰۰ ښځو ته چې د ماشومانو د زیږولو په عمر کې وي ورسیږي. دغه شمیر ښځي د ننګرهار په ۹ ولسوالیو (اچین، ده بالا، ګوشته، حصارک، خوګیاني، رودات، شیرزاد، لال پور او دور بابا) او د کنړ ولایت په دریو ولسوالیو (چپه دره،مره وروه او پیچ) کې او د لغمان

ولایت په یوه ولسوالی (دولت شاه) او د نورستان په ټولو شپږ ولسوالیو (مندول، نورګرم، وامه، وایګل، کامدیش، برګ متال) کې دي. د ختیځ سیمی څلور ولایتونه ۵۰ ولسوالی لري.

د روغتیا نړیوال سازمان او یونیسف ۲۲۰۰۰ واکسیناتوران، سوپروایزران، څارونکی او روغتیایي کارکوونکي د کمپاین لپاره چمتو کړي دي.

دا په دې کال کې د تیتانوس ضد لومړی کمپاین دی او په ختیځ زون کې دویم کمپاین دی. د دې واکسین لومړی کمپاین په کال ۲۰۰۸ کی د لومړی ځل لپاره په لاره اچول شوي وو. دول لومړی کمپاین په ۲۰۰۸ کې پیل شوی وو.

## د ملګرو ملتونو د ورځې په مناسبت د ملګرو ملتونو د پراختیایی مرستو چوکاټ معرفي شو

د ملګرو ملتونو د پراختیایی مرستو چوکاټ چي د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژي تقویه کوي پرون ورځ د اکتوبر په ۲۴ نیټه په بادام باغ کې د اقتصاد د وزیر ډاکتر جلیل شمس او د یوناما د مرستیال واټکینز له خوا اعلان شو.
دغه چوکاټ چي په خپل نوعیت کې د لومړی ځل لپاره معرفی شوی دی د افغانستان له انکشافي پروګرامونو سره له ۲۰۱۰ څخه ۲۰۱۳ پورې مرسته کوي.

په دې چوکاټ کې دری مهم سکټورونه د لومړیتوبونو په حیث انتخاب شوی دی:

- حکومت داري، سوله او ثبات
- د ژوندانه دوامداره معیشیت، د کرنیزو خوراکي توکو له پلوه خوندیتوب او د عایداتو پیدا کول،
- روغتیا، تعلیم، اوبه او روغتیا پالنه

د دې چوکاټ په بنا چي د افغانستان له حکومت سره پرې موافقه شوې وه په مربوطو پروژو به په راتلونکو څلورو کلونو کې څلور بیلونه ډالر لګیږي.

## پوښتنې او ځوابونه

**نور تلویزون:** داسي ویل شوي دي چي یوناما به خپل ځیني کارمندان لرې کړي، زه غواړم پوه شم چي آیا دغه پروسه لا تر اوسه پیل شوې ده او کوم لوړ پوړی چارواکي په دغه بهیر کې شامل دی؟

**یوناما، علیم صدیق:** په دی اړه زیاته کچه تیروتنه موجوده ده. اجازه راکړئ چي دا ټکی څرګنده کړم. یوناما هیڅ کارمند نه لیرې کوي او نه یې ټاکي. دغه ټاکني او دوهم ځل ټاکني چي موږ یې په اړه غږیږو یوه افغاني رهبري شوي پروسه ده. ملګري ملتونه د یو این ډي پی/ ایلیکټ د لارې د افغانستان د ټاکنو موسسو ته د پلانګذاری، لوژستیک او څار په ډګرونو کې ملاتړ برابروي.

دوهم ځل ټاکني چي په اړه یې غږیږو د لومړنی پړاو د ټاکنو څخه به ډیرې اساني وي. یوازې د دوو نوماندانو تر منځ به یوه ټاکنه وي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رایه اچووني د مرکزونو شمیره او کارمندان چي د دې کار لپاره ورته اړتیا ده تر غور لاندې نیسي. د دې کار د یوې برخې په توګه هغوی به په څرګنده سره د کارمندانو استخدام ترسره کوي او دا چي په دوهم پړاو کې به لږو کارمندانو ته اړتیاوي. موږ ته د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له اړخه باور راکړل شوی دی چي د کارمندانو څخه ځیني کټګوری شته چي هغه به نه استخدامیږي. موږ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون څخه اوریدلي دي چي هغه به داسي کسان دوهم ځل نه استخداموي چا چي طرز العمل په سمه توګه په پام کې نه دی نیولی او یا هم په درغلیو کې ښکیل دی. خو دلته ځینې نوري کټګوری هم شته چي هغه به دوهم ځل نه استخدامیږي:

هغه کارمندان چي د دوهم ځل ټاکنو لپاره په کار کې غیر حاضر دي او هغه کارمندان چي پخپله نه غواړي په دوهم پړاو کې کار وکړي. په زیاته شمیره کې د کارمندانو تنقیص سره موږ ګورو چي دوهم پړاو به د ښې نظمیو امکانات او همدارنګه د درغلیو احتمال راټیټ کړي. موږ هیله مند یو چي د ټاکنو خپلواک کمیسیون دغه شمیرې په راتلونکو څو ورځو کې مشخصی کړي.

**واشنګټن پوست:** موږ اوریدلي دی چې ښايي ډاکټر عبدالله به د دويمې دورې په ټاکنو کې برخه وا نه اخلي. موږ غواړو پوه شو تاسي په دې باب څه فکر کوئ او که چیري دی داکټر عبدالله په دی ټاکنو کی ګډون و نه کری نو اساسي قانون او د ټاکنو قانون په دې باب څه وايي چې څه باید وشي؟

**یوناما، علیم صدیق:** موږ د کمپاین له دواړو ټیمونو سره نږدې رابطه لرو او دواړو د دې پروسې په باب اندیښنه څرګنده کړې ده او د ټاکنو به یوه یا بله موسسه یې انتقاد کړی دی. دغه اندیښني کله چې رامنځ ته شوې رفع شوي دي او نتیجه یې د لومړی دورې ښې او منصفانه پایلې وې چې د دواړو نوماندانو له خوا ومنل شوې. موږ اوس له دواړو کاندیدانو څخه غواړو چې اجازه ورکړي دواړه موسسې په دویمه دوره کې یو ځای کار وکړي څو موږ د دویمي دورې داسي نتیجې تر لاسه کړو چې دواړو خواوو ته د منلو وړ وي.

د داسې یوه حالت په باب که یو نوماند وغواړي چې ټاکنې و نه کړي، موږ فکر کوو چې باید لومړی په دې باب د ټاکنو د خپلواک کمیسیون نظر وارو چې د داسې وضعې په موجودیت کې به قانوني حالت کوم وي. دا یوه پروسه ده چې افغانان یې په مخ بیایي، موږ دا خبره څو ځله کړې ده او موږ باید د ټاکنو با صلاحیته ارګان ته اجازه ورکړو چې د دې خاصې مسالی په باب لومړی خبرې وکړي.

**راډيو آزادی:** ډاکټر عبد الله ویلی دی چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ځینې غړی باید ګوښه کړای شي، آيا د ملګرو ملتونو له خوا په دې باره کې څه شوې دی. په لومړی پړاو کې د امنیت لپاره ډیر اقدامات نیول شوی وو، د دویمي دورې لپاره څومره امنیتي اقدامات شته او ایا په دې ځل به هم بین المللی ناظرین موجود وي؟

**یوناما، علیم صدیق:** زه بیا تاسو هغه څه ته راجع کووم کوم چې ما د واشنګټن پست د پوښتني په ځواب کی ی وویل. موږ داسې شرایط درلودل چې دواړو نوماندانو د لومړی دورې پایلې ومنلې او د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د شکایتونو کمیسیون په ګډه سره کار کاوه. د کمپاین دواړو ټیمونو د دې پروسې په مختلفو وختونو کې په دغو موسساتو باندې نیوکې درلودلې او زه فکر کوم چې دغه وضعه په داسې تودو ټاکنیزو مبارزو کی د تمې وړ ده، خو مهمه خبره دلته دا ده چې دې دواړو نوماندانو د لومړی دورې پایلې منلې دي او دواړو موسساتو په ګډه سره همکاري درلوده. موږ له نوماندانو سره خبرې کوو او موږ دوی ته وړ په یادوو چې موږ غواړو دوی د دویمې دورې د ټاکنو پایلې ومني او دا چې دغه دواړه موسسې همکاري سره ولري. موږ اوس په دې مرحله کې یو. موږ د امنیتي موسساتو د ورو‌ستیو تبصرو څخه خوښ یو چې د دویمې دورې د ټاکنو لپاره امنیتي تدابیر نیول شوي دي. موږ هیله من یو چې امنیتی ارګانونه به امنیتي ګامونه ګړندي کړي څو په دویمه دوره کې زیات شمیر رایه اچوونکی ګډون وکړي. خو د هیواد امنیتي ارګانونه کولای شي تاسي ته د امنیتی حالاتو په باب معلومات درکړي او دا چې دوي څومره تیاری نیولی دي. یوناما له داخله وزارت او د دفاع له وزارت سره په منظمه توګه ویني او دویمې دورې د ټاکنو لپاره د تیاری په وخت کې له هغو سره مرستي کوي د بین المللی څارونکی تیم په اړه، هو موږ غواړو چې هغه تیمونه چې په لومړنی دوره کې حاضر وو دویمي دورې ته هم راشي څو د افغانانو دا یقین پیدا شي چې ټاکنې په ښه توګه ترسره کیږي.

**سلام وطندار:** ډاکټر عبد الله اندیښنه څرګنده کړې ده چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ځینې چارواکي په ټګیو کې ښکيل وو او دوی باید د څارنوالی له خوا تعقیب شي خو دوي اوس هم کار کوي او د ډاکټر عبد الله بل شرط دا و چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون دری تنه چارواکي باید له دندو څخه ایسته کړای شي او ښاغلی ګالبریت هم ویلی و چې د دوي په موجودیت کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون نه شي کولای خپلواک پاتې شي.

**یوناما، علیم صدیق:** موږ وینو او پوهیږو چې د کمپاین دواړه ټیمونه د یوې یا بلې موسسې په باب شکایت کوي خو کوم شي چې موږ لیدلی هغه دا دی چې دوی د لومړی دورې د ټاکنو پایلې منلې دي، چې د ټاکنو دواړو موسسو له خوا اعلان شوي وي. اجازه راکړئ په ښکاره ووایم چې ملګري ملتونه د ټاکنو هیڅ یو غړی نه استخداموي او نه هغه ګوښه کوي خو موږ غواړو چې د دویمې دورې ټاکنې باید له لومړی دورې څخه بهتره وي. موږ غواړو چې په دې دوره کې د درغلیو اندازه کمه وي او موږ د ټاکنو له خپلواک کمیسیون او په دې هیواد کې د ټاکنو له نورو موسساتو سره خبرې کوو او له هغو سره مرسته کوو چې د دویمې دورې ټاکنې پاکې او شفافې وي څو د دواړو نوماندانو د ټاکنو په وروستیو پایلو باندې باور وشي او دا هغه څه دي چې موږ اوس زور ور باندې اچوو.

**د پژواک خبری اژانس:** تاسي اوس د دواړو کاندیدانو د اندیښنو خبره یاده کړه. موږ غواړو چي دغه اندیښني نوری هم څرګندي شي. ایا دغه اندیښني د ډاکټر عبد الله د انکار په اړه دي او یا د ایتلافي حکومت په باب او که د بل څه په باب دي. موږ غواړو د دغو تیمونو د اندیښنو په باب پوه شو.

**یوناما، علیم صدیق:** زه سیاست مدار نه یم. سیاست مداران اندیښني څرګندوي. ځیني دغه اندیښني له موږ سره شریکي شوي دي، تاسي به دا ومنئ چي موږ له دواړو کاندیدانو سره خصوصي مذاکري درلودي. زه یقین لرم چي دواړه تیمونه به په خوشحالی سره هغه اندیښني له میدیا سره شریکي کړي چي دوی یي ښایي ولري. زه تاسي ته وړاندیز کوم ي د کمپاین له تیمونو سره ووینئ او د هغوي له خولي واورئ چي دوي څه اندیښني لري.

**د سبا تلویزیون:** د افغانستان ځینو سکتورونو ویلی دي چي د دوهم پړاو ټاکني هم ازادې نه دي، تاسو په دې اړه څه وړاندوینه کوئ؟

**یوناما، علیم صدیق:** تاسو پوهیږئ چي د دې ځانګړي مسلې په اړه زه تاسو ته د ځانګړی استازی د هغې وینا ریفرنس درکوم چي د دې بهیر په اړوند یې ډیره موده وړاندې کړې وه چي په هغې کي ویلي شوی دي چي دا ټاکني به اساني ټاکني نه وي. دا غالبا تر ټولو ډیري پیچلي او ستونزمني ټاکني دي چي د نړی کوم هیواد ورسره به دغه شان وخت کي مخ شوی وي.

موږ د کندهار په نوی ښار کي ټاکني ترسره کوو نه په ژنیو کي. نو ځکه زه فکر کوم چي دا مهمه ده چي موږ د هلو ځلوپه اړه واقعبین و اوسو. خو موږ باید د دې هیواد د ټاکنو موسسو ته د دې کریډټ او درنښت ورکړو، چي په دغه بهیر کي یي درلودلای دی. په دغه ټول بهیر کي موږ واوریدل چي دا ممکنه نه ده، هغه ممکنه نه ده، خو موږ دلته یو او تیاری په چټکی سره د دوهم پړاو لپاره رواني دي دا ترسره کیږي.

په هر پړاو کي ننګوني راځی او ورسره مقابله کیږي. د دویم ځل ټاکنو ته دوه اونی پاتي دي، او موږ غواړو چي د دوهم ځل لپاره ښی، پاکي او سوچه ټاکني ولرو نسبت هغو ټاکنو ته چي په لومړی پړاو کي مو ولیدلي او دلته به د ملګرو ملتونو له اړخه د ټاکنو د موسسو سره په دې هیواد کي د ملاتړ په برخه کي نیمګړتیا نه وي، څو چي تر ممکنه حده غوره ټاکني په دوهم پړاو کي ولرو.

**د تمدن تلویزیون:** زه نه پوهیږم چي زموږ پوښتنی روښانه نه دي او یا تاسو په ماهرانه ډول غواړی چي زموږ د ځواب څخه وتښتی او هغه مهمو ټکو ته ځواب ور نه کړي کوم چي موږ غواړو. کومی اندیښنی چي ډاکټر عبدالله یادوی د ادارو په اړه نه دی بلکه د هغه وګړو په اړه دی چي په دی ادارو کی کار کوي. هغی د یو شمیر جګپوړو چارواکو نومونه هم یاد کړي دي، موږ غواړو چي د یوناما په درېز پوه شو.

**یوناما، علیم صدیق:** راځي چي دا په ډاګه کړو. دا د افغانانو ټول ټاکني دي دا د ملګرو ملتونو ټول ټاکني نه دي. موږ نه څوک په کار ګماړو نه یې نیسو. کو چیری دا خبره په ډاګه شوي نه وي نو څه کولای شم چي پس له کنفرانس دا مسله تاسو ته په څرګنده ډول بیان کړم.

**بی بی سي:** کولای شئ د ټاکنو د بیا جوړیدو په اړه د نړیوالو هلو ځلو تفصیل راکړئ.. زیرمي څه دي او د ټاکنو د بیا دایریدو لپاره به څومره پیسي ورکړای شي؟

**یوناما، علیم صدیق:** د ټاکنو د ټولي پروسي لپاره ۳۸۰ میلیونه ډالره بودجه چمتو شوي وه چي دې کي لومړني او دوهم پړاو شامل دي. د مرسته کوونکو په برخه کي زه دغه معلومات نه لرم چي وړاندې یي کړم. خو که چیري تاسو موږ سره وروسته وغږیږئ نو په خوښی به دغه معلومات تاسو ته د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د ټاکنو له پروژي څخه درکړو.

**د طلوع تلویزیون:** آیا کولای شئ موږ ته په ځانګړی ډول خپل نظر د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په اړه ووایاست، ایا دا په ریښتني ډول خپلواک دی یا څنګه؟ او هغه څه چي په پراخو درغلیو پوری اړه لري چي په لومړی پړاو کي شوي دي، آیا تاسو فکر کوئ چي په دویم پړاو کی به رایه ورکوونکي زیات وي؟

**یوناما، علیم صدیق:** ما هغه څه ته چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په اړه وو، وویل. موږ دا منو چې اندیښنې شته، نه یوازې د ټاکنو د خپلواک کمسیون په اړه، مګر د ټاکنو د نورو موسسو په اړه، او دا به دې پورې اړه لري چې تاسو د کمپاین د کوم ټیم څخه اورئ چې هغه د کومې موسسې په اړه اندیښنې لري.

هر څوک بې نظمۍ او هغه فساد چې په لومړنی پړاو کې ولیدل شو منې، یوه نکته چې د ځانګړی استازی (کای ایده) له خوا په هغه غونډه کې چې د امنیت په شورا کې تیره میاشت وه او یا ده شوه دا په ښه توګه څرګندوي. موږ هم دا ډیر په وضاحت سره د دې پروسې په پیل کې ویلی و، چې دا به د افغانستان لپاره ډیرې ستونزمنې ټاکنې وي چې په دې وخت کې ترسره کیږي. دا لومړنی ټاکنې دي چې د افغان موسسو له خوا یی مشری کیږی. لکه چې ما وویل دا هغه ټاکنې دي چې د کندهار په نوی ښار او یا د هلمند په نوی ښار کې وشوې او نه هم د ژنیو په نوی ښار کې. خو ډیره مهمه نکته دلته دا ده چې موږ د ننګونو سره سره، د خنډونو سره موږ د لومړی پړاو پایلې لرو چې د کمپاین دوو سترو اړخونو منلې دي.

او هیڅوک نه غواړي چې هغه درغلی یو ځل بیا تکرار شي چې په لومړی پړاو کې وي. موږ به د افغانستان د دغو ځوانو موسسو ملاتړ ته دوام ورکړو څو هغوي د ټاکنو د دوهم پړاو لپاره تیاری ولري څو په دې لنډه موده کې پاکې او شفافې د دوهم پړاو ټاکنې ولرو.

زموږ لرلید دا دی چې وروستنی پایلې ولرو چې د دواړو نوماندانو له خوا ومنلې شي او په ریښتونې توګه د افغانستان د خلکو د ارادې تمثیل وکړي.

---------------------------------------------